د لازياتو معلوماتو لپاره
اندی.ام.ا کمبيل: مملکتي رئيس
+93 (0) 79 813 7023
acampbell@ndi.org

# د افغانستان ټاکنو په هکله نوي معلومات

NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

د ولسي جرګې ټاکني په ۱۸ د سيپتمبر د ۲۰۱۰ روان
د سپتمبر ۸ نيټه ۲۰۱۰ کال: ۱۰ ورځې ټآکنو ته

ملي ديموکراتيک انستيتوت د ۲۰۱۰ کال د ولسي جرګي دټاکنو د پروسه او د څارني دندي په غاړه لري. چه اړوندی دندي به دی ټاکنو تر مخه، پرمهال او د ټاکنو څخه وروسته تر سره رکيږی. د څارني او اړوندو دندو لپاره ۱۴۰ نړيوال او افغاني څارونکي په ټول هيوداد کښې په خپلو دندو بوخت دي. د لازياتو معلوماتو لپاره زموږ بريښنا ليک دی. NDI.org AfghanistanElectionData.org

## د نوماندانو د صلاحيت ارزونه تر څو د مخالفو وسلوالو ډلو سره تړاو و نلري

## نوماندانو او رايه ورکونکو ته د صلاحيت د ردولو د کړنلارې نه روښانتيا

د زياتو خلکو په آند جګړه مارانو په ټاکنيزو ادارو کې ټاکلې ځوکې ترلاسه کړي، د ۲۰۰۴ له کال ټاکنو رايه ديخوا په و ار وار د سياسي نوماندانو د صلاحيت ارزونې لپاره د پرمخ تللي کړنلارې سپارښتنه شوي ولې، سږکال د نوماندانو د صلاحيت ارزونه د تيرو ټاکنو په پرتله ناسمه ده. ۲۰۱۰ کال د ولسي جرګې نوماندانو د صلاحيت ارزونې د تيرو ۳ مياشتو څخه را په ديخوا پيل او د شکايتونو د کميسيون په وينا کيدئ شي د نوماندانو د صلاحيت ارزونې بهير د ټاکنې ورځې پورې ادامه ولرې. تر اوسه د ټاکنو شکايتونو کميسيون دوه ستر دليلونه د نوماندانو د صلاحيت د رد کولو لپاره څرګند کړې دي ۱) د يو د مخالفو وسلوالو ډلې غړيتوب او يا مشرې په غاړه درلودل دي.[ د سپتمبر ۶ نيټه پورې په نومړې دليل د ۳۶ نوماندانو صلاحيت رد شوۍ] ، او ۲ نوماندان د خپلو حکومتي دندو په ټاکل شوې وخت کي د نه استعفاء ورکولو له امله رد شول. د سپتمبر ۶ نيټه پورې د ۴۸ نوماندانو صلاحيت په دې دليل رد شول. د شکايتونو کميسيون د هغو شکايتونو چې د حکومتي دندو څخه استعفانده ورکړې څيرني ته ادامه ورکوي او دا حق لري چې په نورو ديلونو سره سره، د نوماندانو صلاحيت رد کړې. سږ کال د صلاحيت ارزونې تر ټولو لويه انديښنه رد شوې نوماندان نه دي بلکه د ټاکنو بهير رونوالی ( شفافيت) ده. د اسنادو په بنسټ، نومورې پروسه د صلاحيت ارزونې کميسون چې، ملي امنيت، کورنيو چارو وزارت، ملي دفاع وزارت استازي يی غړيتوب لرې په ګډه پيل کوي. د صلاحيت ارزوني کميسيون دنده لرې ترڅو د هغو نوماندانو نومونه چې د مخالفو وسلوالو ډولو سره تړاو لرې د شکايتونو اوريدلو کميسيون ته و سپاري. ولې دا مسوليت په غاړه نلري چي راپورته شوې ادعاګاني د مخالفو وسلوالو ډلو سره د تړاو په هکله و څيري، ولې روستنی حکم به د شکايتونو اوريدلو د کميسيون لخوا د نوماند د ردولو او يا نه ردولو په اړه خپور شي. د کال په شروع کي، د صلاحيت ارزوني کميسيون د ۸۳ نوماندانو نومونه د شکايتونو اوريدلو کميسيون ته د صلاحيت د ردولو لپاره و سپارل شوۍ، ولې نومورئ نوماندان د استناف غوښتونکي شول او داسي سندونه يی جوړ کړل چې د صلاحيت ارزونې کميسون پريکړې يی ناسمی اثبات کړې.و لې د استيناف د څيرنې پرځای د صلاحيت ارزونې کميسون دغه معلومات د ټاکنو شکايتونو کميسيون ته وړاندې کړه. ولې د ټاکنو شکايتونو کميسيون د دصلاحيت ارزونې د کميسيون څخه و غوښتل ترڅو د استيناف څيرنې ترسره کړي. وروسته د صلاحيت ارزونې کميسيون ۷۸ تورن نوماندان ازاد کړل او د ټاکنو شکايتونو کميسيون ته يی د ۱۳ نوماندانو لست د صلاحيت د ردولو لپاره ورکړ چي په نومورې لست کي ۸ تنه نوي نوماندان شامل ؤ. د استيناف د وخت څخه ورووسته د نويو شامل شويو نوماندانو لپاره.

تازه معلومات: په يوه مخکيني راپور کي، ملي ديموکراتيک انستيتوت پر يوي مباحثي باندي رڼا واچوله چي د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ملي دفاع وزارت ترمنځ د ټاکنيز مرکزونو روستني(نهايی) لست د ۲۰۱۰ ټاکنو لپاره تر سره کيده د سيپتمبر څلورمه څخه وروسته، د ولسمشر حامد کرزي او د ټاکنو خپلواک کميسيون مشری ترمنځ به يو غونډه ترسره شي ترڅو د ټاکنيز مرکزونو لست په اړه خبري اتري وکړي. د ټاکنو خپلواک کميسيون د نهايی لست په بنسټ ۵۸۹۷ ټاکنيز مرکزونه دي. ولي د ټاکنو خپلواک کميسيون د امنيت د خرابی په صورت کي کولی شي چي د ټاکنيز مرکزونو په شمير کي بدلون راولي.

ادامه يی په ۲ پاڼه کي و ګورې

## د رسنيو لخوا د ۲۰۱۰ کا ل ولسې جرګې سياليو پوښښ

### د رسنيو چاپيريال:

ګواښمن امنيت د کمو معلوماتو ترلاسه کولو لامل کيږي. د بيلګي په ډول، د کليد ګروپ رسنيو په وينا د دوی ژورنالستان کولی شي چي يوازي ۲۸ ولايتونو ته سفر وکړي په داسي حال کي چي د ۲۰۰۵ کال د ولسي جرګې په ټاکنو کی يی ۳۴ ولايتونو څخه ليدنه کړي ؤ. له دې سره سره ژورنالستان ګواښول کيږی. د افغانستان ژورنالستانو ملي اتحاديه او بې پولي خبررسونکو د حکومت د پريکړې په اړه چي يو خصوصي تلويزيون يی د جولای په ۲۷ نيټه بند کړ نيوکه وکړه او بيان يی کړه چي حکومت قانوني کړنلارو څخه سترګې پټې کړی او قانوني چينلونه يی بند کړل. ولسمشر حامد کرزي په وينا د امروز تلويزيون چي د ولسي جرګې د يونوماند ؤ ملي خيانت يی وکړ.ولې مامورينو د ادعا دقيق لامل بيان نکړ. او نورو رسنيو ته لکه د راه فردا او کوسر تلويزيون ته يی اجازه ورکړه ترڅو ناحدوده خپرونی ترسره کړي.

### د ټاکنو د رسنيو کميسيون

د ولسمشر خپور شوې د ټاکنيز فرمان په بنسټ سږکال. د ټاکنو خپلواک کميسيون د ټاکنو د ورځی څخه نه ۲ مياشتي ترمخه د ټاکنو رسنيو کميسيون چي ۵ غړې لری تاسيس کړ. د رسنيو کميسيون صلاحيت لري ترڅو د ټاکنو خپروني تر پوښښ لاندې ونيسي او هغو شکايتونه څيرنه وکړې چي د رسنيو د چلند اصولو څخه سرغړونه شوې وي. د ژورنالستانو اتحادي په وينا د قانون په رڼا کي حکومت د ټاکنو رسنيو کميسيون ته اړتيا درلوده نه داچي حکومت خصوصي تلويزيونونه د امروز په شان بند کړې. ټاکنو رسنيو کميسيون تر اوسه ۱۲ شکايتونه د بې موازني پوښښ په اړه ترلاسه کړې. ۹ شکايتونه رسنيوته د خبرتيا په ورکولو سره حل کړی شوي ترڅو د رسنيو د چلند اصولو ته لاره کيږدي او پاتي شکايتونه د څيرني لاندي دي.

### د نوماندانو د وخت څخه استفاده

د افغانستان راديو تلويزيون، چي حکومتي خپروني په غاړه لري، د ټاکنو رسنيو کميسيون په هم غړئ يو پريکړه ليک لاس ليک کړ، په ونومورې پريکړه ليک کي دوی ژمنه کړي چي نوماندانو ته په کابل کې به هره ورځ ۵ دقيقي وخت د راديو او ۳ دقيق وخت د تلويزيون لخوا ورکول کيږې ترڅو خپل پيام خلکوته ورسوي. د سلو نوماندانو څخه چي دا فرصت ورته پيدا شوی ؤ ترڅو خپل پيام په وړيا توګه ترسره کړي يوازی ۳۹ نوماندانو د دې فرصت څخه ګټه واخيستله. د افغانستان د راديو تلويزيون يو مامور په وينا، ښځينه نوماندانو ورته ويلې ؤ چي دوی نه غواړې په ځانګړي ډول د روژه په مياشت کي د تلويزيون په پرده و ښوول شي او تلويزيوني خپرونو زياته پاملرنه ځانته جذب کړي ده. د اګست د مياشتي ۲۲ نيټي راپه ديخوا ۹۰ نوماندانو خپل پيامونه خپاره کړې دي.

## د صلاحیت ارزوني پروسه و نتوانیده تر څو اعتماد لاس ته راوړي( پاتي له لومړی پاڼې )

د ټاکنو شکایتونو کمیسیون بیان کړی چي د نوموړو نوماندانو څخه یو شمیر وتوانیدل ترڅو د خپلې بیګناهی د اثبات لپاره اسناد تیار کړي. استیفن دي میستورا د ملګرو ملتونود سازمان سرمنشي ځانګړی استازی نوموړي بهیرناسم وُبله. ولسمشر حامد کرزي د صلاحیت ارزوني کمیسیون مسئول د ولسمشری ماڼی ته بلنه ورکړه او د لړ ځنډ په تیریدو سره د صلاحیت ارزوني کمیسون د ټاکنو شکایتونو کمیسیون ته یو بل لست ورکړ چي په دي لست کي د ۲۶ نوماندانو د صلاحیت ردولو غوښتنه شوې وه. د صلاحیت ارزوني کمیسیون مناسبه و نه بلله تر څو د نویو نوماندانو لپاره د استیناف دوره و ټاکي حال دا چي د ټاکنو خپلواک کمیسیون وغوښتل چي باید ۸۴ ساعته وخت استیناف ته ځانګړي شي. د جولای میاشتي په ۷ نیټه د ټاکنو شکایتونوکمیسیون اعلان وکړ چي دوی د ارزونی د کمیسیون لخوا یو رسمي لست د ۳۱ رد شویو نوماندانو ترلاسه کړ چي نوموړیو نوماندانو د استیناف په دوره کي ندی توانیدلي ترڅو داسي شواهد او یا اسناد برابر کړي چي د نوموړیو بیګناهی ثابته کړي نو رد د صلاحیت شول. دا نا څرګنده ده چي د شکایتونو اوریدلو کمیسیون روستنی لست د ۳۶ نوماندانو د مخالفو وسلوالو ډلو سره د تړاو په تورځرنګه و ټاکه. نوماندانو هڅه وکړه ترڅو دا پروسه چي د دوی د صلاحیت ارزونه یی ترسره کړې او هغه د استناف چلند چي حکونه یی په دوی صادر کړي کشف کړې. یو شمیر نوماندان په دي آند دي چي دوی د شواهدو د درلودلو په خاطر نه بلکه د ملاتړ او یا د سیاسي پیاوړتوب د احتمالاتو په بنسټ رد شوی دي.

## د ۲۰۰۹ کال شپږ(۶) تر ټولو ستونزمن ولایاتونه او د ۲۰۱۰ کال لپاره ټاکنیز چمتو والی

په ۲۰۰۹ کال کي د ټاکنیز بیا شمیرنې په پایله کي د یو میلون څخه د زیاتو رایو د منځه وړلو لامل شوې. دا برخه د هغو شپږو (۶) ولایاتو ارزونه کوې چي په ۲۰۰۹ کال کي یی د نیمو څخه زیاتې رایی باطلې شوې اوس مهال یی د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو لپاره د تیاري ارزونه کوي

### قندهار: ۱۸۴،۲۸۳ رایې له نظره غورځول شوي وې

د بلواګرو فعالیتونه د ټاکنو بهیر په څرګند ډول اغیزمن کوي.تیر کال نوماندانو وکړای شول چي د قندهار ولایت ۱۷ څخه ۱۵ ولسوالیولیدنه وکړي او زیاتي سیالی د ولایت په مرکز کي ترسره شوي وي. سږ کال د امنیتی ستونزو له امله نوماندانو و نشو کولای چي ترخپلو خونو څخه بهر ټاکنیزې سیالی ترسره کړي. د ټاکنو سیمه ییز ناظم ته هم د مرګ تهدید شوی ؤ او ورته ویل شوي ؤ چي د خپلي دندي څخه لاس واخلي، د ۱۳۴ ولسوالیو ناظمینو څخه لسو(۱۰) د امنیتی ستونزو له امله استعفا وکړه. په داسي حال کي چي د ملکي زده کړو استادان تیار نه دي چي د قندهار په ښار کي هم کار وکړي. ولایتي ټاکنیز مامور په دي آند دی چي په نا امنو سیمو کي به د کارمندانو په استخدام کي هم ستونزي وي. د ټاکنیز شکایتونو او د ټاکنو خپلواک کمیسیون رئیس د پوپل زي د قوم د ولسمشر حامد کرزي د قبیلي دي چي نور خلک یی د تبعیض په اړه مشکوکه کړي دي. تیروخت د ټاکنو خپلواک کمیسیون د الکوزي د قوم د تسلط لاندي ؤ

### پکتیکا: ۱۸۹،۵۱۶ رایې له نظره و غورځول شوې( حذف).

تیر کال، د پکتیکا ولایت ۸۹ سلنه رایی باطله شوې او ۱۵۵۰ ټاکنیز مامورین د ۲۰۱۰ کال لپاره په تور لست کي شامل شول په داسی حال کي چي په ټول هیواد کي ۶۰۰۰ ټاکنیز مامورین په تور لست کي شامل شوي ؤ. سږ کال د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ولایتي ټاکنیز مامورین هم د دندو په داسي حال کي لیري کړل چي دوی هڅه کوله ترڅو بیا استخدام شي. ۱۰۰ ټاکنیز مامورین چي کڼ شمیر یی د ولسوالیو ناظمین ؤ د نوماندانو سره د غلطو اړیکو او درغلیو په خاطر د دندو څخه لیري شول آن داچي د ټاکنیز مامورینو شمیر ۳۰ سلني ته ورسیده امنیتي او بیسوادی ستونزي په ولایت کي نوره هم د کارکونکو استخدام ګران ګړ. ولایتي شکایتونو کمیسیون لخوا راپور تر لاسه شو چي دوي دفتري اړین توکي او انترنت نلري چي شکایتونو ته د رسیدلو په وخت کي ځنډ را پورته کوي. په ۲۰۰۹ کال کي، ۳۰ سلنه زیات کارتونه ښځینه و ته د نارینه و په پرتله ویشل شوي ؤ، ولي سږ کال به د ټاکنیز ښځینه مامورین نه وي تنها د یو دلسوالی ناظمه به وي، په ولایتی شکایتونو کمیسیون کي به ښځینه نه وي او همدا رنګه به د افغانستان د خپلواک او عادلانه ټولټاکنو بنیاد(FEFA) ښځینه څارونکي هم و نه ګمارل شي.

### غزني: ۱۳۸،۳۴۰ رایې حذف شوې

ټاکنیز مامورین، د ولایتی شکایتونو کمیسیون کارکونکی او نوماندانو ته په نوموړي ولایت کي د طالبانو لخوا ګواښ شوی ترڅو ټاکنیز فعالیتونو ته د پای ټکی کیږدي له دي امله نوماندان ویره لري او نشي کولی ترسو ټاکنیز سیالی ترسره کړي اویا خپل استازي روزنیز پروګرامونوته واستوي. د یو نوماند په وینا، دا به ښه وي چي بې روزنی استازی ولری د دې په پرتله چي سرونه یی د بلواګرو لخوا غوځ شي. د یو لاسي بم د چاودنی له امله یو هزاره نوماند د خپل دفتر ترځنګ و وژل شؤ او بل یی ټپي شؤ. د دغو ګواښونو له امله مدني روزنی د رسنیو لخوا ترسره کیږي. ځایی مامورینو، نوماندانو او قوماندانانو په ټاکنیز ولایتی مامورین زور اچولی ترڅو ۱۲۵۸ شمیر ماورین د ۵۰۰۰ مامورینو څخه چي تیر کال یی د غزني ولایت په ټاکنو کي کار کړ او په تور لست کي شامل ؤ بیا استخدام کړي

### پکتیا: ۱۵۵،۷۲۵رایې حذف شوې

د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو بهیر پیښو کي ښکاره زیاتوالی راغلی او د ټاکنیز مامورین،نوماندان او رایه اچونکې هم په ډار کې دي. د ګردیز ولایت په مرکز کي بلواګرو ډلو په خلکو کي داسي ویره اچولی او بیان کړې دي چي هرهغه څوک چې په ټاکنو کې ونډه واخلې نو ګوتې به یی غوڅې شي. ۴۰ سلنه نړیوال او ځایی مامورین په دې آند دي چي سږ کال به درغلي د تیر کال څخه زیاته وي او د ګواښمن امنیت له امله به په ۲۰۱۰ کال کي څارونکي د درغلیو په کشفولو کي د ډیرو ستونزو سره مخ شي. ټاکنو خپلواک کمیسیون له دی سره سره چي په ۲۰۰۹ کال کي یی د ټاکنیز مرکزونو شمیر کم کړ ولې بیاهم د ولایت د دریو(۳) څخه دوه (۲) برخه رایی باطله شوې او د ۲۰۰۰ ټاکنیز مامورینو څخه ۵۰۰ مامورین په تور لست کي شامل شؤ. د ولایتونو ګواښمن امنیت به څارونکي د ستونزو سره مخ کړي ترڅو درغلي کشف کړي

### غور: ۷۹،۲۵۲ رایې حذف شوې

د ټاکنو خپلواک کمیسیون په ۲۰۰۹ ولسمشریزه ټاکنو کي د ۱۰ ولسوالیو څخه په ۹ ولسوالیو کي د رایو پاڼو صندوقونه د درغلیو په خاطر باطل کړل.ولې د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کي د ټاکنو شکایتونو کمیسیون د څیرني په بنسټ یوازې د دولت یار ولسوالی رای باطله اعلان کړې. د شکایتونو کمیسیون د تیر کال ټاکنیز ولایتی مامور په اړه ډیرې ویناوې وکړې نو ځکه سږ کال د ټاکنو خپلواک کمیسیون نوموړی د بادغیس ولایت ته تبدیل کړ. سږکال هم امنیت ډاډمن نه دی، او د ګوتو په شمار ملي امنیتي ځواکنونه د یو زیات شمیر ولسوالیو د امنیت خوندي کولو دندې په غاړه لرې. د پارلمان غښتلي غړې، تیر حکومتي مامورین او د جمعیت اسلامي د حزب پورې تړلې نوماندان غور په ولایت کي د ۶ څوکیو ترلاسه کولو لپاره سیالي ترسره کوې. ځایی مامورینو اندیښنه ښودلې چې د شتمنو نوماندانو ترمنځ سیالي به درغلیو ته لمنه ؤ وهي.

### کابل: ۱۰۲،۸۰۰ رایې حذف شوې

د ټاکنو خپلواک کمیسیون سیمه ییز ناظم په وینا، د کابل ولایت ټاکنو خپلواک کمیسیون به ټاکنیز مرکزونو کي روزل شوي مامورین ځای پرځای کړي ترڅو بینظمي په ګوته کړي په ځانګړي توګه هغوځایونو ته پاملرنه وکړي چي تیر کال په کې درغلی شوې ؤ. د درغلیو مخنیوي نوې کړنلارې، لکه د ولسوالیو ناظمینو استول نویو ځایونو ته به هم پلې شي. له دې سره سره، د ګواښمن امنیت او یا د درغلیو د کشف په وخت کې په سیمه کې داسي پریکړه هم کیدئ شي چي رای پاڼی د کلیوالو سیمو څخه د ښار د ټاکنو شمیرني مرکزوته انتقال شي او په راتلونکې ورځ په کابل کې شمیرنه ترسره شي څرنګه چي په ۲۰۰۹ کال کي دا کار وشؤ ولې د ۲۰۱۰ لپاره دا کار د اجرأ وړ نه دی. دا په دی معنی ترڅو په هغو سیموکي چي رایی پاڼی شپه پاتې کیږې د لاس وهنی فرصت مساعد نشی.

ملي دیموکراتیک انستیتیوت یو بیطرفه، او غیر حکومتی سازمان دی چي دیموکراتیک سازمانونو نه د دوه(۲) لسیزو را په دیخوا ملاتړ کوي او په افغانستان کښی یی د ۲۰۲ کال څخه را په دیخوا کار شروع کړ. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو لپاره ملی دیموکراتیک انستیتیوت د ۱،۷۰۰ نوماندانو لپاره پرمخ بوتلل او ۲۴۰ ښځینه نوماندانو او سیاسی ګوندونوته یی د زده کړی تر سره کړي. او تخنیکی مرستی یی د افغانستان د ټاکنو ازاد او عادلانه سازمان ته برابری کړی( فیفا) چي په هیواد کښی تر ټولو د څارنی لوی سازمان دی. اوس مهال، ملي دیموکراتیک انستیتیوت د نواماندانو د اجنتانو ظرفیت په ټول هیواد کښی لوړي تر څو د ټاکنو د ورځی فعالیتونو په اړه ریپوټونه تیار کړي.